بسم الله الرحمن الرحیم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بیه میراث چې اهلبیتو(ع) له ځانه وروسته پریخی دی او د هغوي لارویانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب یوه کامله بیلګه ده چې د اسلامي علومو بیلا بیلې څانګې لري. او د علم ډیر تږي یې له دې چینې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان یې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبیتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بیلا بیلو سوالونو، شبهو فکري بې لاریو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پیړیو کې یې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري یې اختسې ده ـ د رسالت له حریمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندې شوې ده. هغه حقیقتونه چې د بیلا بیلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو همیشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبیتو نړیواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبیت (ع) د ریښتني لارویانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې همیشه دې تهمتونو لرې کولو ته تیار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانې د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبیتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخیره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاویږي. ځکه چې دا تجربې او دلیلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځایه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دلیلونه ومني او قبول یې کړي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، لیکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبیتو(ع) مذهب یې قبول کړی دی، کتابونه چاپ کړي او د حقیقت د چینې تږو ته یې وړاندې کړي.

دې غونډې د شیعه وو د تېر شویو عالمانو لیکل شوې کتابونه او تحقیقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقیقت د لټوونکو لپاره د یو خوږې چینې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کېدو دی، د اهلبیتو(ع) هغې حقیقتونو ته چې د نړیوالو لپاره یې د تحفی غوندې پریخي دي غوږ کیدي.

هیله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قیمتي وړاندیزونو او ښو نیوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پیغمبر(ص) دین په خپرونې کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدایه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشریف) د سوري لاندې نور توفیق هم راکړي.

دې ځاي کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحیم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې یې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کیدو کې یې له مونږ سره مرسته کړې، په بیله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبیتو(ع) د نړیوالې غونډې

فرهنګي معاونت

# لنډه پيژندګلو

نوم: محمد
لقب: جواد
د پلار نوم: علی
د مور نوم: خيزران
زوکړه: د رجب لسمه
امامت: اوولس کاله
شهادت: د ذی قعدې ورستۍ نيټه
قاتل: معتصم
زيارت: کاظمين (عراق)
اولاده: څلور زامن اوۀ لوڼه

# حضرت امام محمد تقي عليه السلام

د اتم امام حضرت امام على ابن موسى الرضا عليه السلام عمر له څلويښتو كلونو اوړيدلى ؤخو تراوسه يې اولاد نۀ لرو ، دې خبرې د هغۀ مننوكي انديښمن كړي وو ځكه چې د پيغمبر حضرت محمد (ص) او نورو امامانو په روايتونوه كښې راغلي وو چې نهم امام به د اتم امام بچى وي،نو ډير په انتظار وو چې خدايې امام رضا عليه السلام له ځوې وركړي،

امام به د هغوي د اندیښنو په ځواب کښې ویل خدايې پاک به ماته ځوې راکړي چې تر ما ورسته به امام او زما وارث وي.[1]

لنډه دا چې د 195هجري قمري کال د رجب د میاشتې په لسمه نیټه امام محمد تقي علیه السلام دنیا ته مخ ځرګند کړو.[2] د دوي نوم محمد ، کنیت ابو جعفر او مشهور لقبونه یې تقي او جواد دي، د مور بي بي نوم یې بي بي سبیکه دی خو امام رضا علیه السلام پرې خیزران نوم ایښي ؤ. دا بي بي د پیغمبر حضرت محمد (ص) د بي بي ماریه قبطیې له نسله وه، دا د خپل وخت په ښځو کښې د اخلاقی فضیلتونو له نظره لویې مقام لري، امام موسی بن جعفر علیه السلام تر دې ځو کاله مخکښې چې بي بي خیزران د امام رضا علیه السلام کور ته راشي، د هغې ځینې ځانګړتیاوې بیان کړې وې. د امام رضا علیه السلام خور بي بي حکیمه وایي د امام محمد تقي علیه السلام د زوکړې په وخت زما ورور له ما وغوښتل چې له خیزران بي بي سره پاتې شم. امام محمد تقي علیه السلام د زوکړې په دریمه ورځ اسمان ته مخ کړو بیا یې ښي او ګس اړخ ته وکتل او وې ویل: اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا رسول الله.

---

1 . بحار ج 50 ص 15 عیون المعجزات ص 107

2 . یو بل روایات کښې وایي چې هغوي د روژې په میاشتې کښې زیږل شوي وؤ.

ما چې دا موضوع ولیده نو ډیره حیرانه شوم او خپل ورور امام رضا علیه السلام ته مې قیصه وکړه امام وفرمایل: تر دې ورسته به له دهٔ نورې هم حیرانوونکې خبرې وګورې.[1]

نوفلی وایي: خراسان ته د امام رضاعلیه السلام د سفر په وخت مې له هغو وپوښتل زما سره خو دې څه کار نشته؟ امام وفرمایل: زما د ځوي محمد پیروي کوه زهٔ په داسې سفر روان یم چې ستنیدل پکښې نشته.

محمد بن ابی عباد وایي له امام رضا علیه السلام مې واوریدل چې تر ما ورسته به زما ځوې محمد زما وصي او زما په کورنۍ کښې زما ځاي ناستی وي.

خیراني له خپل پلاره نقل کړې ده چې وې ویل په خراسان کښې له امام رضا علیه السلام سره ؤم چا له امام تپوس وکړو که تا ته څهٔ پیښه یا غمیزه راپیده شوه نو چا ته رجوع وکړو؟ وې فرمایل: زما ځوی ته.(ګوندې پوښتنه کوونکی د امام محمد تقي علیه السلام عمر کافی نهٔ ګڼلو او په دې خیال کښې ؤ چې یو ماشوم څنګه د امامت ذمه واری په غاړه اخستلی شی) امام رضا علیه السلام وفرمایل: خدایې پاک عیسی علیه السلام نبی او رسول وګرځولو په داسې حال کښې چې عمر یې د حضرت امام محمد تقي علیه السلام له عمره کم ؤ.

---

1 . مناقب ج 4 ص 394

عبدالله بن جعفر وايي: له صفوان بن يحي سره يو ځايې د امام رضاعليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم. امام محمد تقي عليه السلام هم چې درې کلن ؤ، هلته ناست ؤ. له امامه مې تپوس وکړو: که تاسو ته څۀ پيښ شو نو ستا ځای ناستی څوک دی؟ امام محمد تقي عليه السلام ته اشاره وکړه او وې ويل :دی: ومو ويل: په دې کم عمر کښې؟ وې ويل: هؤ په همدې عمر کښې. خدايې پاک حضرت عيسی عليه السلام خپل حجت وټاکلو حال دا چې لا د دريو کالو هم نۀ ؤ.

امامت هم د نبوت په شان خدائی تحفه او هديه ده چې خدايې پاک خپلو غوره او خوښو بندګانو ته ورکړې ده او په دې کښې د عمر هيڅ شرط او دخالت نشته، هغه کسان چې د يو ماشوم امامت او نبوت ناممکنه اولرې خبره ګڼي حال دا چې داسې نۀ ده بلکې امامت او نبوت د خدايې په خوښې پورې تړلی دی. او خدايې يې په خپل علم سره چاته چې غوره ګڼي ورکوي يې. له ټولو علمونو او عيبونو خبر خدايې که دا دنده د ځينو مصلحتونو په وجه يو ماشوم ته وسپاري او هغه نبي او امام کړي نو څۀ غلطه خبره نۀ ده.

نهم امام محمد تقي عليه السلام قابو په نهه کلنۍ کښې د امامت درجې ته ورسيد. معلی بن محمد وايي د امام رضا عليه السلام له شهادته ورسته مې امام جواد عليه السلام ليدۀ او د هغۀ کړو وړو ته ځير شوم چې د هغۀ نورو منوونکو ته يې ووايم. امام جواد عليه السلام کيښناست او وې ويل:

ای معلی خدايې پاک د امامت چاره هم د نبوت غوندې ګرځولې ده کله چې فرمايي: و اتيناه الحکم صبيا (يحي عليه السلام ته مو په وړوکوالي کښې نبوت ورکړ)

عمر بن فرخ وايي: له امام جواد عليه السلام سره يو ځاې د دجلې د سيند په غاړه ولاړ ؤم وته مې وويل: ستا منوونکی ادعا کوي چې تاته د دجلې د اوبو وزن معلوم دی؟ وې فرمايل: ايا خدايې دا وس لري چې د دجلې ده اوبو وزن يو مچ ته وښائی؟ ومې ويل: هؤ خدايې قادر دی. وې فرمايل: زۀ په خدايې باندې له مچه او نورو ډيرو مخلوقاتو ګران يم.

## د امام ځينې معجزې

1: د امام رضا عليه السلام له شهادته وروسته د بغداد او نورو ښارونو اتيا عالمانو او فقيهان د حج لپاره مکې ته لاړل. په لاره کښې په مدينه کښې هم ايسار شول چې له امام جواد عليه السلام سره کتنه وکړي. په دې غرض د امام صادق عليه السلام په کور کښې ديره شول. امام جواد عليه السلام چې وړوکی ؤ د هغوي محفل ته داخل شو. د موفق په نامې يو سړي هغه نورو ته معرفي کړو. ټول عالمان ورته پاځيدل او جوړ تازه يې ورسره وکړل. بيا يې له امام ځينې پوښتنې وکړې چې امام يې ځوابونه ورکړل. ټولو پکښې د امامت اثار وليدل.

په امامت یې مطمئن شول. خوشحاله شول، امام یې وستایهٔ او دعا یې ورته وکړه.

په هغوي کښې د اسحاق په نامه یو سړی وایي: ما هم په یو لیک کښې لس پوښتنې لیکلې وې چې له امامه یې وپوښتم او له ځان سره مې وویې چې که امام زما پوښتنو ته ځوابونه راکړل نو له هغهٔ نه به وغواړم چې خدایې ما ته هغه بچی چې زما د ښځې په خیټه کښې دی،نر بچی وګرځوي. محفل اوږد شو ، ټولو له امامه پرله پسې پوښتنې کولې او ځوابونه یې ترلاسه کول. زهٔ راپاڅیدم چې کور ته لاړ شم. امام چې ولیدم نو وې فرمایل: ای اسحاقه خدایې دې دعا قبوله کړه. د ځوی نوم دې احمد کیږده. د خدایې شکر مې وکړو چې دا هماغه حجت دی چې زهٔ یې په لټون کښې وم.

2: عمران بن محمد اشعری وایي: د امام جواد علیه السلام خدمت ته ورغلم، له خپلو کارونو ورسته مې عرض وکړو:ام الحسن تاته سلام ویلی او ستا یوه جوړه یې غوښتې چې ځانله ترې کفن جوړ کړي. امام وفرمایل: هغه له دې کاره بې نیازه شوه، زهٔ راستون شوم او پوهه نهٔ شوم چې له دې خبرې د امام مطلب څهٔ ؤ، تر دې چې خبر شوم ام احسن امام ته زما له ورتګه څوارلس پنځلس ورځې مخکښې مړه شوې وه.

3: احمد بن حدید وایي: له خپلو ځینو ملګرو سره حج ته روان ؤم چې څوکمارو راته لاره ونیوله او مال یې رانه واخستو کله چې مدینې ته راورسیدو، امام جواد علیه السلام مو په یوې

کوڅې کښې ولید. بیا یې کور ته ورغلو او قیصه مو ورته واوروله. امام مونږ ته جامې او پیسې راکړې بیا یې راته وویې چې دا پیسې په ټولو کښې په هغه اندازه تقسیم کړه چې څومره ترې کمارو اخستی دی. پیسې مې تقسیم کړی او ټولو ته هغومره ورسیدې چې څومره ترې غلو اخستې وې او یوه پیسه هم باقی نۀ شوه.

4: مامون امام جواد علیه السلام بغداد ته راوست او خپله لور یې ورکړه. خو امام په بغداد کښې پاتې نۀ شو او مدینې ته ستون شو. د ستنیدو په وخت ځینې کسان د امام د بدرګې لپاره له ښاره بهر راووتل. د ماښام د مانځه په خت یو زوړ جمات ته ورسید. امام جمات ته د مانځۀ لپاده ننوت، د جومات په غولي کښې د بیرې یوه ونه وه چې تراوسه یې میواه نۀ وه ورکړې. امام د هغې ویښ ته وضو (چهار اندام) وکړ او د جمعې مونځ یې هم وکړو بیا یې څلور رکعته نفل او د شکر سجده وکړه او له خلقو رخصت شو. سبا ته هغې ونې ډیره میوه وکړه او خلق په دې قیصې ډیر حیران شول. اروښاد شیخ مفید (رح) وایي ځې په کلونو ورسته ما پخپله دغه ونه ولیده او میوه مې ترې وخوړه.

5: د امام رضا علیه السلام د شهادت اعلان:

امیه بن علی وایي چې امام رضا علیه السلام په خراسان کښې ؤ، زۀ په مدینه کښې ؤم او امام جواد علیه السلام کره مې تګ راتګ ؤ، د امام خپلوان به هم تلل راتلل. یوه ورځ

امام خپلې وينځې ته وفرمايل: د کورنۍ ښځو ته ووايه چې ځان د وير او غم لپاره تيارې کړي. سبا يې ورته بيا وويل چې ماتم ته تيارې شئ. پوښتنه يې ترې وکړه چې د چا ماتم ته؟ وې فرمايل: د زمکې په مخ د ټولو نه د غوره انسان ماتم ته. څو ورځې پس خبر راورسيدو چې په هماغه ورځ چې امام جواد عليه السلام ويلي وو چې ماتم ته چمتو شئ امام رضا عليه السلام شهيد کړی شوی ؤ.

6: قاضي يحيی بن اکثم چې د نبوت او امامت د کورنۍ دښمن دی. پخپله داده کيږی چې يوه ورځ مې د پيغمبر حضرت محمد (ص) د قبر په خوا کښې امام جواد عليه السلام وليد. د مختلفو مسئلو په حقله مې ورسره مناظره وکړه. هغۀ د ټولو جواب راکړو. ومې ويل: په خدايې قسم غواړم چې يوه پوښتنه درنه وکړم خو شرميږم، امام وفرمايل: زۀ ستا له ويلو بغير ستا د پوښتنې ځواب درته وايم. ايا پوښتل نۀ غواړې چې څوک امام دی؟ ومې ويل هۇ همدا تپوس مې درنه کولو. وې فرمايل: زۀ امام يم. ومې ويل: د خپلې ادعا لپاره درسره څۀ نخښه شته. په دې کښې هغې امسا چې د امام په لاس کښې وه، وويل: زما مولا ددې زمانې امام دی او د خدايې حجت دی.

7: د ګاونډي ژغورل:

علي بن جرير وايي: د امام جواد عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم. امام له کوره يوه ګډه ورکه شوې وۀ. د امام

خدمتګارو يو ګاونډې د غلا په تور امام ته راوست. امام وفرمايل: افسوس دې وى په تاسو. دى پريږدئ، دۀ ګڼه نۀ ده پټه کړې. د پلانکي کور ته ورشئ ګڼه هلته ده. خلق هغه کور ته ورغلل او ګڼه يې ومونده د کور مالک يې د غلا په تور ونيوۀ وې وهلو او جامې يې هم ورله وشلولې خو هغه قسم خوړو چې ګڼه ما نۀ ده پټه کړې. هغه يې امام ته راوست. وې فرمايل: په دې مړي مو ظلم وکړ. ګڼه پخپله ددۀ کور ته تللې وه او دې ترې خبر هم نۀ ؤ. بيا امام د هغۀ د زړۀ ساتنې لپاره څۀ پيسې هغۀ ته ورکړې.

**8**: على بن خالدوايي: په سامرې کښې خبر شوم چې يو سړى يې په بند کښې له شامه راوستى او دلته يې بندى کړى او وايي چې دۀ د پيغمبرۍ دعوى کړې ده. بند ته لاړم او د بند له مالکه مې وغوښتل چې هغۀ ته مې ورولى کله چې ورغلم نو هغه راته يو پوهه او عقلمند سړى ښکاره شو. ورته مې وويل: قيصه څۀ ده؟ وې ويل: په شام کښې مې په هغه ځاې کښې چې خلق وايي هلته يې د امام حسين عليه السلام مبارک سر ځوړند کړى ؤ، عبادت کوؤ. يوه شپه چې په عبادت لګيا ؤم، ناڅاپه مې خپلې مخې ته يو سړى وليد، ما ته يې وويل پاڅه. پاڅيدم او له هغۀ سره څو ګامه لاړم تر دې چې د کوفې جمات ته ورسيدم. له ما يې وپوښتل: دا جمات پيژنې؟ ومې ويل: هؤ د کوفې جمات دى. هلته مو مونځ وکړو او راووتو، بيا لږ لاړو او ناڅاپه مې وليدل چې په مدينه کښې مسجدالنبى ته

رسيدلی يم. د پيغمبر د قبر زيارت مو وکړو، په جمات کښې مو مونځ وکړو او راووتلو. لږ غوندې بيا لاړو او ځان مې په مکې کښې د خدايې په کور کښې وليدۀ. طواف مو وکړو او راووتلو. لږ څۀ مزل مې چې وکړو بيا په شام کښې په هماغه ځايې کښې وُم او هغه سړی مې له سترګو پناه شو. دا قيصه چې مې وليده نو ډير حيران شوم تر دې چې يو کال تېر شو اوبيا هماغه سړی راغی او د تير کال قيصه او مسافرت يې هو بهو تکرار کړو. خو دا ځل چې کله له ما جدا کيدو نو قسم مې ورکړو چې ځان راته وښائ. وې ويل: زۀ محمد بن علی بن موسی بن جعفر بن محمد بن علی بن الحسين بن علی بن ابيطالب يم. دا قيصه مې ځينو کسانو ته واوروله او خبر يې د معتصم عباسی وزير محمد بن عبدالملک زيات ته ورسيدو. حکم يې ورکړو چې ما په بند کښې دلته راولي او بندي مې کړي او په دروغو سره يې دا اوازه خپره کړه چې ما د پيغمبرۍ ادعا کړې ده. علی بن خالد وايي هغۀ ته مې وويل چې غواړې ستا دا قيصه زيات ته وليکم چې له حقيقته خبر شي. وې ويل: هؤ، وې ليکه. د هماغه ليک په بل مخ يې راته ځواب وليکۀ چې هغۀ ته ووايه له هماغه سړی چې د شپې له شامه کوفې، مدينې او بيا مکې ته بوتلی، وغواړي چې ازاد يې کړي. په دی ځواب ډير غمژن شوم او سبا له بند ته ورغلم چې ورسيدم نو ومې ليدل چې د بند ښارونکی او نور ټول ډير خفه او سرګردانه دي. ورته مې وويل څۀ چل شوی دی؟ وې ويل چې

کوم سړي د پیغمبرۍ ادعا کوله بیګا له بنده وتلی دی. او نۀ یو خبر چې څنګه له جیله ووت. زمکې وخوړو که اسمان ته والوتلو؟ تر اوسه مو چې څومره تحقیق او پلټنه کړې ده د هغۀ هیڅ نخښه نښانه مو په لاس نۀ ده راوړې.

9: زرقان چې د ابن ابی داؤد نزدې او د زړۀ ملګری ؤ، وايي: یوه ورځ مې ابن ابي داؤد ولید چې ډیر غمژن او خفه دهان له محفله راووت. تپوس مې ترې وکړو چې ولې؟ وې ویل نن مې ارمان وکړ چې کاش شل کاله مخکښې مړ وی. ومې پوښتل ولې؟ وې ویل: د هغې پیښې او کانې په خاطر چې نن رابانډې امام جواد علیه السلام د معتصم په محفل کښې وکړه. ورنه مې وغوښتل چې ټوله قیصه راته ووایه. وې ویل: یو سړی په غلا داده شو او له معتصم خلیفه یې وغوښتل چې د خدایې پاک د حد په جاری کولو سره مې پاک کړه. خلیفه ټول فقیهان راغونډ کړل چې محمد بن علی امام جواد علیه السلام هم پکښې ؤ. زمونږ نه یې تپوس وکړ. د غل لاس له کوم ځایه پرې کړم؟ ما ویل له بنده. وې دلیل څۀ دی؟ ومې ویل ځکه چې د تیمم په ایت کښې چې فرمايي: فامسحو بوجوهکم و ایدیکم[1] (په خپل مخ او لاسونو مسح وکړئ). دلته د لاسونو نه مطلب تر بندوو پورې دی (یعنی تر بندونو پورې مسح وکړئ). ځینې نور فقهانو هم زما په خبرې موافق وو او ویل یې چې د غل

1 . د مائدی سورة 5 ایت

لاس باید له بنده پرې شي. خو ځنو نورو ویل: نه، پکار ده چې له ځنګلې پرې کړی شي ځکه چې د وضو او اودس په ایت کښې، فاغسلو وجوهکم و ایدیکم الی المرافق[1](خپل مخونه او لاسونه تر ځنګلو پورې ووینځئ، له لاسه مطلب تر ځنګلې پورې دی.)

بیا معتصم له محمد بن علی امام جواد علیه السلام وپوښتل چې ستا نظر په دې مسئلې کښې څه دی؟ وې فرمایل: دوی خپل نظر ورکړ، ما معاف کړه. معتصم ټینګار وکړ او امام ته یې قسم ورکړ چې خپل نظر څرګند کړي. امام وویل: قسم دې راکړو نو خپل نظر درته وایم. دوی په غلطۍ دي ځکه چې پکار ده د غل یوازې ګوتې[2] پرې کړې شي او نور لاس دې پریښودل شي. معتصم وویل: په کوم دلیل؟ وې فرمایل: ځکه چې د خدایې رسول فرمایلي دي سجده په اوو غړو کیږی، تندی، د دواړو لاسونو(یعنی په د ننه مخ)، دوو زنګونونو، او دوو پښو، نو که د غل لاس له بنده یا ځنګلې پرې کړې شي، هغۀ ته خو هیڅ لاس نۀ پاتې کیږی چې سجده پرې وکړي. همداراز خدایې پاک فرمایي: وان المساجد لله و

---

1 . د مائدی سورة 5 ایت

2 . له ګوتو مطلب یوازې څلور ګوتې دي ځکه چې غټه ګوته نۀ پرې کیږي.

لا تدعوا مع الله احداً[1] (هغه اوۀ غړی چې سجده پرې کیږی د خدایې پاک دي نو له خدایې پاک سره هیڅ مۀ شریکوئ، او د هیچا عبادت مۀ کوئ) او کوم غړي چې د خدایې وي، نۀ پریکول کیږي.

ابن ابي داؤدوایي د امام جواد علیه السلام ځواب د معتصم خوښ شو او حکم یې ورکړ چې دغل ګوتې پرې کړئ. نو مونږ هلته موجودو کسانو ته ډیر پیکه او سپک شو او ما هم هلته د شرم په وجه د مرګ ارمان وکړ.[2]

## د وادۀ غوښتنه او سازش

د امام رضا علیه السلام د ژوند په باب کښې مې وویل چې مامون د ټولنې له ګډوډیود ژغورنې د علویانو د بلوا د مخ نیوی او ځان ته د امام دوستانو د نږدې کولو لپاره ځان د اهلبیتو مینه وال او لیوال ښودلو. او په امام رضا علیه السلام باندې یې د ولی عهدۍ په تپلو سره غوښتل چې هم خپل دا مقصد عملی کړی او هم امام له نږدې وځاري، له بلې خوا د بنی عباسو کورنۍ د مامون په دې عمل او په دې چې احتمالا خلافت له بنی عباسو څخه علویانو ته منتقل شي

1 . دجن سورة 18ایت

2 . تفسیر عیاشی ج 1ص319

سخته غصه او خفه وه او ځکه يې د مامون مخالفت ته ملا وتړله. خو چې کله مامون امام رضا عليه السلام ته زهر ورکړل نو خوشحاله شوه او بيا يې مامون ته مخه کړه. مامون ډير په پټه امام ته زهر ورکړي وو او کوشش يې کوؤ چې ټولنه له دې پيښې خبره نشي او په خپل جرم باندې د پردې اچولو لپاره يې ماتم وکړ او درې ورځې د امام په زيارت کښې پاتې شو او يوازې په مالګې او ډوډۍ يې ګزاره وکړه. خو له دغه ټولو تدبيرونو او پرده اچولو سره سره علويانو ته حقيقت ښکاره شو او پوهه شول چې د امام قاتل مامون دی نو سخت قهرژن او په کينه کښ شول او د مامون حکومت ته يو ځل بيا خطره ورپيښه شوه. ددې خطرې د مخنيوی لپاره يې يوه بله دسيسه او سازش جوړ کړو او هغه دا چې له امام جواد عليه السلام سره يې ډيره مهربانی پيل کړه او د نورې استفادې لپاره يې خپله لور هغۀ ته ورکړه او غوښتل يې چې کومه استفاده يې په امام رضا عليه السلام باندې د ولی عهدۍ له تپلو اخستې وه له دې واوۀ هم واخلي، امام جواد عليه السلام يې د هجرت په **204** کال يعنی د امام رضا عليه السلام له شهادته يو کال ورسته له مدينې، بغداد ته راوست او خپله لور ،ام الفضل يې ورته وادۀ کړه.

ريان بن شبيب وايي کله چې عباسيان د مامون له دې فيصلې چې خپله لور امام جواد عليه السلام ته وادۀ کول غواړي، خبر شول نو ويريدل چې داسې نۀ وی چې حکومت د

عباسیانو له لاسه اوځي او هماغه حالت چې د امام رضا علیه السلام په زمانه کښې راغلی ؤ، تکرارا شي. نو مامون ته جرګه شول او اعتراض یې وکړو. هغهٔ ته یې قسم ورکړو چې له دې کاره تیر شه او وې ویل تاته ښهٔ پته ده چې زمونږه او علویانو ترمینځ څهٔ تیریږی او خبر یې چې مخکښینو خلیفه ګانو به دوي ته سپک کتل او له ځانه به یې شړل مونږ په دې هم ډیر خفه وو چې ولي عهدي دې امام رضا علیه السلام ته ورکړه خو ښه وه خدایې هغه واخستو اوس تاته په خدایې قسم درکوؤ مونږ بیا مهٔ غمژنوه له دې وادهٔ ډډه وکړه او لور دې په عباسیانو کښې یو کس ته چې یې د دې وادهٔ وړ ګڼې ورکړه.

مامون ورته وویل: څهٔ چې ستا سو او د علویانو ترمینځ تیر شوي دي د هغې عامل تاسو وئ که په انصاف سره وګورئ نو هغوي تر تاسو وړ او غوره دي او څهٔ چې مخکښینو خلیفه ګانو وکړل، له خپلو خپلوانو پرې کیدل او د قطع رحم و، زهٔ له دې کاره خدایې ته پناه وړم او د رضا په ولي عهدی، هم پښیمانه نهٔ یم. ما له هغهٔ وغوښتل چې خلافت ومني خو هغهٔ ونهٔ منله او د ابو جعفر امام جواد علیه السلام په حقله به درته ووایم چې ما ځکه هغه خپلې لور له خوښ کړو چې په وړوکوالی کښې هم په علم پوهې او فضیلت کښې په ټولو فاضلانو او عالمانو لوړ ؤ او همدا د حیرانتیا او تعجب خبره ده او هیله من یم لکه څنګه د هغهٔ علم ماته ښکاره دی

ټولوخلقو ته هم ښکاره شي چې پوهه شي چې زما خيال او کار سم دی.

عباسيانو وويل: کۀ څه هم دا ماشوم ځينې حيرانتياوې او برياوې لري خو تر اوسه ډير وړوکی دی او سبق يې نۀ دی ويلی، لږ صبر وکړه چې د ادب او دين علم زده کړي بيا دې لور ورکړه. مامون وويل: افسوس دې وي په تاسو! زۀ دا ماشوم تر تاسو ښۀ پيژنم دی له داسې کورنۍ دی چې علم يې خدائی دی او زده کړې ته حاجت نۀ لري. ددۀ پلار او نيکانو تل په علم او پوهه کښې بې ساري او بې نيازه وو که يقين مو نۀ راځی نو وبه يې ازمايو چې هر څۀ په ډاګه شي. وې ويل: دا ښۀ وړانديز دی. ستا په مخکښې به له هغۀ د فقهې يوه پوښتنه وکړو که ځواب يې راکړو نو ستا خبره سمه ده او لور دې ورکړه که پاتې راغی نو له دې وادۀ به تيريږې. مامون وويل: ټيک ده کله چې وغواړئ ازمايلی يې شئ.

عباسيان د هغه وخت قاضی يحي بن اکثم ته ورغلل او د ډيرو پيسو وعده يې ورسره وکړه چې له امام جواد عليه السلام داسې پوښتنه وکړي چې هغه يې ځواب ونۀ ويل شي. يحي ومنله او ټول په جمع مامون ته ورغلل. مامون د ازميښت لپاره يوه ورځ وټاکله. په هغه ورځ ټول راغونډ شول. مامون حکم ورکړ چې د امام جواد عليه السلام لپاره د غونډې په سر کښې يو اوچت ځايې جوړ کړئ چې د پوښتنې او ځواب په وخت يې ټول وکتی شي. امام راغی په هماغه ځايې

کښيناستو. يحي بن اکثم يې هم مخې ته کښيناستو. مامون د امام په څنګ کښې او ټول خلق په خپلو خپلو ځايونو کښيناستل. يحي بن اکثم له مامونه وپوښتل: اجازت شته چې له ابو جعفره پوښتنه وکړم؟ مامون اجازت ورکړو.

يحي بن اکثم امام ته وويل: له تا ځار شم، د هغه سړي حکم څۀ دی چې د احرام په حالت کښې ښکار وکړي، او مړ يې کړي؟

امام وفرمايل: ددې مسئلې ډير ډولونه و شکلونه دي، ايا دغه سړی په حرم کښې دننه ؤ او که بهر، په دې خبر ؤ چې د احرام په حالت کښې ښکار حرام دی او که نۀ، په غلطۍ سره يې ښکار وژلی دی او که په کس، دا سړی مريې او غلام دی او که ازاد، وړوکی دی که غټ،دا يې لومړی ځل دی چې دا کار کوی، که نه مخکښې يې هم کړی دی، کوم شی چې ښکار کړی دی مارغه دی او که بل ځناور، ښکار وړوکی دی که غټ، د شپې يې ښکار کړی که د ورځې، او دې سړي حج ته احرام تړلی ؤ که عمرې ته؟

يحي بن اکثم چې ددې نهه کلن امام د علم دا طاقت او د هغۀ د پوښتنې دا سې سپړدنه او تشريح وليده، نو لا لهانده شو، لاره ورځنې ورکه شوه، ژبه يې تتـه شوه، هيڅ ځواب يې ورنۀ کړی شو او په مخ يې د ماتې نښې ښرګندې شوې او ټول حاضرين د امام له علمي قدرته او طاقته خبر شول. مامون وويل: خدايه ستا لاک لاک شکر دی په دې نعمت او په دې

چې زما خبره ربښتيا شوه، بيا يې عباسيانو ته مخ کړو او وې ويل: ومو منله او که نه؟ مامون په همدې مجلس امام ته د خپلې لور وړانديز وکړ، امام ومنله، د نکاح خطبه يې پيل کړه او وې فرمايل:

اَلحَمدُ للهِ اقراراً بِنِعمَته، وَلا الـه الا الله اخلاصاً بِوَحدانِيته و صلى الله...( د خدايې پاک په نعمت باندې د اعتراف او داده کيدو لپاره د هغۀ مننډوی يم او د هغۀ په وحدانيت او يووالی کښې د اخالصو لپاره د توحيد کلمه لا الـه الا الله وايم، د خدايې سلام او درود دې وی په محمد (ص) او د هغۀ د کورنۍ په غوريزو کسانو باندې.

بې شکه دا په خلقو باندې د لويې خدايې رحمت او فضل دی چې هغوي يې د حلالو په ذريعه له حرامو بې نيازه کړي او د وادۀ حکم يې ورکړی او فرمايلی يې دي: تاسو کښې چې کوم بې وادۀ ښځې او سړي دي او ستا سو په مريانو او وينځو کښې چې کوم د وادۀ صلاحيت او غوره والی لري هغوي يو بل ته وادۀ کړئ چې د فقر او غريبانې په وجه يې وادۀ پاتې نه شي، که دوي فقيران او غريبان وي نو خدايې هغوي ته په خپل رحمت سره عطا کوي. او بې نيازه کوي يې.او خدايې پاک د بندګانو د روزۍ پراخوونکی او په هر څۀ پوهه دی.

بيا امام د بي بي فاطمه الزهرا (ع) له مهر سره په برابر مهر (پنځو سوو درهمو) باندې د مامون لور سره وادۀ ته چمتو شو. مامون د خپلې لور لخوا نکاح ولوسته او امام جواد عليه

السلام قبوله کړه او د مامون په حکم سره حاضرانو ته ډيرې تحفې او ډالۍ ورکړل شوې. د ستر خوانونه وغوړول شول، خلقو ډوډۍ وخوړۀ، خواره شول او يوازې د مامون خپل خپلوان او درباريان پاتې شول بيا مامون له امامه وغوښتل چې د هغې مسئلې د ټولو شکلونو ځواب ورته ووايي. امام ورته په تفصيل سره د هر شکل او بڼې ځواب ووايو. مامون د ځواب په اوريدلو سره امام ډير وستايۀ او ورته يې وويې چې اوس تۀ له يحي بن اکثم د يوې مسئلې پوښتنه وکړه. امام يحي بن اکثم ته ووېې وپوښتم که نه؟: يحي بن اکثم چې پاتې راغلى او پيکه ۋ، وويل ستا سو خوښه. که راتللو راته خو ځواب به يې درکړم کۀ نۀ راتللو نو له تاسو به يې زده کړم. امام وفرمايل: دا څنګه کيدى شي چې يو سړي سهار مهال يوې ښځې ته د شهوت په نظر وکتل او دا نظر د هغۀ لپاره حرام ۋ، کله چې نمر راوختۀ نو همغې ښځې ته په شهوت سره کتل ورباندې حلال شول چې کله ماسپښين شو نو بيا پرې حرام شو، او د شپې د ماسخوتن د مانځۀ په وخت پرې حلال شو، او نيمه شپه پرې حرام شو او چې کله سهار شو نو هاغې ښځې ته کتل ورته بيا حلال شول. نو اوس ووايه چې ولې داسې وشول او دې ښځې ته په شهوت سره کتل په هغۀ باندې ولې حلاليږې او حراميږى؟

يحي وويل: په خدايې قسم خورم چې ځواب يې نۀ راځى او نۀ پوهيږم پرې، که تاسو يې پخپله ځواب ووايئ نو مونږ به

يې درنه زده کړو. امام وفرمايل: دا ښځه د يو سړي وينځه وه، يو نامحرم سړی ورته سهار د شهوت په سترګه وکتل حال دا چې دا کتنه په هغهٔ حرامه وه. کله چې نمر راوختهٔ نو هغه وينځه يې له مالکه واخسته نو حلاله شوه پرې، کله چې ماسپښين مهال شو نو وينځه يې ازاده کړه نو بيا پرې حرامه شوه. مازيګر يې ورسره بيا نکاح وتړله او حلاله شوه. د نمر پريوتو په وخت يې ظهار ورکړ نو حرامه شوه پرې، د ماسخوتن د مانځهٔ په وخت يې د ظهار کفاره ورکړه بيا پرې حلاله شوه، نيمه شپه يې طلاق ورکړ نو حرامه شوه پرې او سهار يې ورته بيا رجوع وکړه او جاروتهٔ ورته، نو بيا پرې حلاله شوه.

مامون ډير په حيرانتيا سره خپلو خپلوانو ته وکتل او وې ويل: په تاسو کښې څوک شته چې ددې مسئلې ځواب يې په دا رنګه زده وی يا ورله د مخکينی ځواب په دومره تفصيل سره ورتلو؟ ټولو وويل: نه.

دې ټکی ته پام ضروری دی چې مامون له دومره دوستانه تظاهر او رياکارۍ سره سره له دې وادهٔ يوازې سياسی غرضونه لرل. او ويلی شو چې لوي موخې او هدفونه يې دا وؤ:

1: د امام کور ته لور په استولو سره يې امام څارلو چې د امام له مصروفياتو بې خبره نهٔ وي، د مامون لور هم خپله دنده په

ښئ توګه ترسره کوله او د مامون لپاره يې د يوې ښاريګرۍ په حيث کار کول. (تاريخ د دې خبرې شاهدت ورکوي)

2: په دې وادۀ سره امام د خپل لهو و لعب او عيش و عشرت دربار ته راکاږي چې له دغو سپکو کارونو سره يې بلد کړي او د امام عظمت داغي کړي چې د نورو په نظر کښې خوار او سپک شي. محمد بن ريان وايي: مامون چې هر څومره هاند وکړ چې امام لهوو لعب او عيش و عشرت ته و هڅوي خو کامياب نۀ شو. په هغه محفل کښې چې د امام د وادۀ د جشن په نامه يې جوړ کړی ؤ، سل وينځې کيښنولې، په لاسونو کښې يې ورته د سرو زرو ډک جامونه ورکړل او وې ويل چې کله امام راننوځي نو ټولې يې هر کلي ته پاڅئ. امام چې کله راننوت نو ټولې وينځې د هر کلي لپاره د امام په لور ورغلې خو امام ورته هيڅ پام ونۀ کړ. او وې ښودله چې له داسې کارو نه ويزاره دی.[1]

3: لکه څنګه مې چې مخکښې هم وويې په دې وادۀ سره يې د علويانو د پاڅون مخه نيول غوښتل او دا چې ځان د هغوي ملګری ثرګند کړي.

4: د عوامو او اولس د غولولو لپاره يې دا کار کړی ؤ کله کله به يې وويل ما دۀ ته خپله لور ورکړه چې خدايې ابو جعفر ته زما له لورې اولاد ورکړی او زۀ د داسې ماشومانو نيکۀ شم

---

1 . تاريخ يعقوبي ج 2ص454

چې د پیغمبر(ص) او علی علیه السلام له نسله وي. خو د مامون دا چل هم ناکام شو ځکه چې د مامون لور د بچو میرمنه نۀ شوه او د امام جواد علیه السلام بچی(امام هادی، موسی، مبرقع، حسین، عمران، فاطمه، خدیجه، ام کلثوم او حکیمه ټول د امام له بلې ښځې ؤ چې د سمانه مغربیه په نوم یوه نیک خویه کنیزه وه.)

غرض دا چې دا وادۀ بشپړ یو سیاسي وادۀ ؤ او سره له دې چې د ارام ژوندورسره تړلی ؤ خو د امام لپاره یې هیڅ ارزښت نۀ لرلو بلکې له مامون سره ګډ ژوند د امام لپاره د ناچارۍ او مجبورۍ ژوند ؤ.

حسین مکاری وایي: په بغداد کښې د امام جواد علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم. د هغوي ژوند مې ولید او ذهن ته مې دا خبره راغله چې امام یو راحته او اسان ژوند ته رسیدلی دی او هیڅ کله به خپل وطن (مدینې) ته راستون نۀ شي. امام د څو شیبو لپاره سر ښکته کړو بیا یې سر اوچت کړ، رنګ یې له غمه زیړ ؤ او وې فرمایل: ای حسینه، تر دې ژونده مې د رسول الله په حرم کښې له مالګې سره اوربشینه ډوډۍ خوښه ده.[1] ځکه خو امام په بغداد کښې پاتې نۀ شو او له خپلې ماندینې (ام الفضل سره) مدینې ته ستون شو او د هجرت تر 220 کاله پورې په مدینې کې پاتې شو.

1. خرائج راوندي ص208

# د امام محمد تقي(ع) شهادت

مامون د هجرت په 218 کال مړ شو او تر هغه ورسته يې ورور ځای ناستی شو. د هجرت په 218 کال معتصم امام له مدينې، بغداد ته راوست چې له نزدې يې تر څارنې لاندې وي. او لکه څنګه چې مخکښې مې هم وويل په هغه محفل کښې يې چې د غل د لاس د پريکولو لپاره جوړ شوی ؤ امام هم راغوښتی ؤ.د بغداد قاضی ابن ابی داود او نور کسان شرمنده او پيکه شول او څو ورځې پس بن ابي داؤد د حسد او ميرځی په وجه معتصم ته وويل: ستا خير غوښتونکی يم ځکه درته يادونه کوم چې د څو ورځو مخکينی قيصه ستا د حکومت د لوړ رتبه مقاماتو په مخکښې دې د ابو جعفر(چې نيم مسلمانان يې د خلافت جوګه ګڼی او تا غاصب بولي) فتوا ته د نورو په فتواګانو ترجيح ورکړه، دا خبره په خلقو کښې خوره شوه او دا پخپله د هغه د جوګه والی او امامتی پوره څرګنده نښه ده، معتصم چې د امام سخت دښمن ؤ،د ابن ابي داود په خبرو وپاريد او د امام د شهيدولو نيت يې وکړو، بالاخره يې خپله سپيرۀ فيصله عملي کړه او هجرت د 220 کال د ذی قعدې په اخره کښې يې امام په زهرو شهيد کړو. د امام ابو جعفر جواد عليه السلام د قبر په څنګ کښې خاورو ته وسپارلو. د دغو

دوؤ امامانو مزار اوس په کاظمين کې مشهور دی او د مسلمانانو يو لويې زيارت ګځل کيږي.

## د امام جواد عليه السلام د مکتب شاګردان

پاک امامان هم د اسلام د ګران پيغمبر محمد (ص) په شان تل د خلقو په ښوونې او روزنې لګيا وو خو د هغې کار د زده کړې له مؤسسو او ادارو سره نۀ شو پرتله کولی. د زده کړې ادارې د تعليم او ښوونې لپاره خاص وختونه لري. په نورو وختونو کښې چټې وي او خدمت نۀ کوي خو معصومينو عليهم السلام د خلقو لارښوونه او تعليم هر وخت په ځان لازم ګڼلو. د هغوي خبرې کړچار ناسته پاسته او د هغوي د ژوند هره يوه ګوښه ښوونکې او روزونکې وه. څوک به چې ورسره کوم وخت هم کښيناستل د هغوي له اخلاقو او کردار به يې زده کړه کولی شوه که څه پوښتنه به يې وه نو کولی يې شوه او د هر مشکل او ستونزې ځواب يې تر لاسه کولی شو.

څرګنده خبره ده چې د پيغمبرانو او امامانو له مکتبه پرته د داسې مدرسې بيلګه هچرته نشته او فطري خبره ده چې د داسې مکتب ګټه او فائده به څومره زياته وي. په همدې وجه اموي خليفه ګانو چې په دې خبره پوهيدل چې که خلق دغو خصوصيتونو ته متوجې شي نو الهي لارښوونکو ته جذب کيږي. او بيا به د دغو غاصبانو حکومت ته خطره ورپيښه

شي. تر ممکنه حده کوشش کوؤ چې خلق له دوي سره رابطه ونۀ ساتي. يوازې د امام باقر عليه السلام د ژوند په څو کلونو کښې چې د عمر بن عبدالعزيز د واکمنتيا وخت ؤ او هغه هم لږ انسانيت لرلو خلقو له دغه امامه استفاده وکړه او د امام صادق عليه السلام په وخت کښې چې اموی حکومت په نسکوريدو ؤ او عباسی حکومت لا سم نۀ ؤ ټينګ شوی خلقو له دغه امامه لږ څۀ په ازاده توګه علم زده کړو. په همدې وجه د امام صادق عليه السلام د شاګردانو او راويانو شمېر قابو څلور زره تنه دي خو د نورو امامانو اصحابان راويان شاګردان ډير کم دي مثلا د امام جواد عليه السلام شاګردان او راويان قابو يو سل لس تنه دي چې له دې معلوميږی د دوي په زمانه کښې له دوي سره په رابطې او اړيکو ټينګولو څومره سختی وه خو سره له دې په دغو کسانو کښې هم داسې ځلانده څيرې شته چې ذکر يې مناسب ګنم.

1. **علی ابن مهزيار (رح):**

د امام جواد عليه السلام له خاصو وکيلانو او يارانو څخه ؤ او د امام رضا عليه السلام او امام علی نقی عليه السلام له اصحابو هم ګڼل کيږی. ډير عبادت کوونکی ؤ تر دې چې ډيرو سجدو يې په تندی نښه جوړه کړې وه د نمر د راختلو په وخت به يې په سجدې کښې سر کيښودو او تر هغې به يې نۀ هسکولو چې زرو مومنانو ته دعا وکړي. علی بن مهزيار په اهواز کښې اوسيدو او تر ديرشو زيات کتابونه يې تاليف

کړي دي د ایمان او د عمل له نظره په ډیرو لوړو درجو کښې ؤ.

2. احمد بن محمد بن ابی نصر بزنطی(رح):

د کوفې اوسیدونکی او د امام رضا علیه السلام او امام جواد علیه السلام له خاصو او عزتمنو ملګرو څخه ؤ. د الجامع په شمول یې څو کتابونه تالیف کړي دي او یو باوري فقیه ګڼل کیږي.

3. ذکریا بن ادم (رح):

دی د قم اوسیدونکی ؤ او مزار یې اوس هم په قم کښې معلوم او مشهور دی. د امام رضا علیه السلام او امام جواد علیه السلام له نزدې یارانو څخه ؤ. امام جواد علیه السلام ورته دعا وکړه او هغه یې له خپلو وفا لرونکو یارانو وګرځولو.

4. محمد بن اسماعیل بن بزیع(رح)

د امام کاظم علیه السلام، امام رضا علیه السلام او امام جواد علیه السلام له یارانو ؤ او یو صالح، سم لاری او عبادت کوونکی او باوری کس ؤ. چې څو کتابونه یې هم تالیف کړي دي. د عباسیانو په دربارکښې به یې کار کوؤ او امام رضا علیه السلام ورته په دې حقله وفرمایل: د ظالمانو او زور ویونکو په دربارونو کښې د خدایې پاک داسې بندګان شته چې خدایې د هغوي په وسیله خپل برهان او دلیل څرګندوي او هغوي ته په ښارونو کښې طاقت او قدرت

ورکوي چې په دې طریقه خپل یاران او دوستان د ظالمانو له ظلمه وساتي او د مسلمانانو چارې سمې کړي دوي د خطرو او پیښو په وخت د ایمان لرونکو پناه ځایونه دي. مصیبت زپلی او دړمن د کړاوونو په وخت دوي ته ورځي. خدایې پاک داسې کسانو په ذریعه مومنان له ظالمانو ساتي. دوي حقیقي مومنان او په زمکې باندې د رب امانت لرونکي دي. په خدایې قسم چې جنت د داسې کسانو لپاره تیار شوی دی.

## د امام ځینې ګټورې خبرې

1: څوک چې په خدایې پاک باندې په توکل او تکیې سره له خلقو د حاجت او نیاز مخ واړوي، خلق هغهٔ ته محتاجه کیږي او څوک چې تقوی خپله دنده وګرځوي په خلقو کښې محبوبیږي.

2: د انسان کمال او بشپړتیا په عقل کښې ده.

3: د مروت او نرمۍ اخری درجه دا ده چې انسان له هیچا سره داسې سلوک ونهٔ کړي چې له ځان سره یې نهٔ خوښوي.

4: د کوم کار چې وخت نهٔ وي رارسیدلی، هغه مهٔ شروع کوئ ځکه چې د پښیمانۍ سبب کیږي او اوږدې اوږدې ارزوګانې او امیدونه مهٔ لرئ چې زړهٔ مو سخت او ظالم نشي، په بې وسو رحم وکړئ چې خدایې پاک درباندې خپل رحمت نازل کړي.

5: څوک چې د چا بد کار ته ښهٔ ووايي په هغه کار کښې شريک دی.

6: د ظالمانو مرستيال او په ظلم باندې غلی پاتې کيدونکی دواړه په ظلم کښې شريک دي.

7: څوک چې خپل مومن ورور ته په پټه نصيحت وکړي په اصل کښې بې هغه ښکلی کړی او سينګار کړی دی او څوک چې ورته د نورو په مخکښې نصيحت کوي نو د هغهٔ اجتماعی څيره بدرنګوي.

8: په زړهٔ سره خدايې ته توجه او پام کول عمل ته د غږو له هڅولو او تشويقولو بهتره او غوره دي.

9: د عدالت او انصاف ورځ به ظالم لپاره په مظلوم باندې د ظلم کولو له ورځې سخته وي.

10: د قيامت په ورځ د عمل نامې سر ليک نيک اخلاق وي.

11: درې څيزونه بنيادم د خداي خوشحالۍ او رضا ته رسوي. له خدايه ډيره بخښنه غوښتل، له خلقو سره نرم خوي او ډيره صدقه ورکول. او درې داسې خصلتونه دي چې په هر چا کښې وي، پښيمانيږي نه. په کارونو کښې بيړه او تادي نهٔ کول، په کارونو کښې مشوره او د کار د کولو په وخت په خدايې توکل.

12: څوک چې له خدايه بل چاته اميد او طمع وکړي خدايې بې هم هغهٔ ته پريږدی او څوک چې بې له علمه او پوهې کوم کار وکړي تر ابادۍ زياته خرابي او وراني کوي.

13: څوک چې فاسق ته امید ورکړي، تر ټولو کمه سزا یې محرومیدل دي.

14: عفت او پرهیزګاري د فقر ښکلا ده، شکر د توانمنۍ ښکلا ده، عاجزي د بزرګۍ او شان ښکلا ده، صبر د مصیبتونو ښکلا ده، تواضع د علم ښکلا، ادب د عقل ښکلا، روڼ تندی د سخاوت او بخښنې او احسان نهٔ اړول د نیکۍ او احسان ښکلا ده، توجه او د زړهٔ حاضرول د مونځ ښکلا او د چټې او سپکو کارونو پرېښودل د پرهیزګارۍ او تقوی ښکلا ده.

15: څوک چې په خداي اعتماد او توکل وکړي خدايې یې له هرې بدۍ ژغوري او له هرې دښمنۍ یې ساتي.

16: دین د سرلوړۍ تومنه ده، علم خزانه ده، چپتیا نور دی او هیڅ یو شی د بدعتونو په شان دین له منځه نهٔ وړي. او هیڅ یو شی د طمعې په برابر بنیادمان نهٔ فاسدوي، د لائق او صالح چارواک او مشر په وسیله خلق سمیږي او له خدایه په دعا سره بلاګانې ختمیږي.

17: خنګه ممکنه ده چې هغه کس چې خدايې یې ولي او سرپرست دی تباه شي او څنګه ممکنه ده چې خدايې ورپسې وي، وژغورل شي.

18: یو سړی له امامه وغوښتل چې په لنډه جمله کښې ورته نصیحت وکړی امام ورته وفرمایل: له داسې کارونو ځان

وساته چې په دنيا کښې د شرم او په اخرت کښې د عذاب سبب شي.

✡ ✡ ✡